// افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com    afgazad@gmail.com

| خاطره هائی از مقاومت | Resistance Memories |
|---|---|

ژباړه: فرهاد ویاړ
۱۴ جولای ۲۰۱۴

# د یانګ تسه له سیند څخه تیریدل
# (۶)



هغوی د دښمن د رڼا اچونکي څراغ په مرسته کله په سینه او کله کږوپ او کله په منډې سره حرکت کوي. له یوې ګړۍ پرمختګ وروسته، چانګ د قطب نما په مرسته خپل لوری ټاکي، هغوی کټ مټ په ممنوعه سیمه کې دي.



هغوې د دښمن نهه ښکاره مورچلونه په ښه توګه ويني. خو پاتې يې لا د ليدلو وړ نه دي.



د بريد شيبه رارسيدلې ده، څو تور ټکي د اوبو پر سر ليدل کيږي، ناڅاپه د يوې ډزې آواز د شپې چوپتيا ماتوي. د دښمن افسران او سرتيري وارخطا کيږي او نه پوهيږي چې څه وکړي.



د دښمن سرتيري چې په وسلو او مهماتو سمبال دي، په بيړه ځانونه مورچلونو ته رسوي. د نهه بريديزه مورچلونو څخه، هم مهاله، د سيند په لوري ډزې کيږي او د څه شيبه وروسته د هغوې د ډزو په ځواب کې د چاودونو آواز د سيند له لوري اوريدل کيږي.



هئو، چې په مورچل کې پټ شوی دی، فکر کوي چې د کمونیستانو پوځ چمتو شوی چې په پټه له سیند څخه تیر شي، د همدې امله خپلو سرتیرو ته دستور ورکوي چې په سیند کې پر تورو ټکو چې فکر کوي د کمونیستانو جالۍ دي، ډزې وکړي.



د توغندیو لمبه، د پټو مورچلونو سیمې ښکاره کوي، لي ورو پوښتنه کوي:«دا څه ډول وسله ده؟» چانګ ځواب ورکوي: «لمبه اچونکی دی.» او ادامه ورکوي:«باید متوجه ووسو، داسې نه چې اوضاع زموږ په تاوان تمامه شي.»



هغوې له يو بل سره په ورو غږيدل چې ناڅاپه تور ټکي په سيند کې اور اخلي. «بايد له وخت نه په استفادې سره، په بيړه له دې ځايه ليرې شو.»



هڅو کله چې ډاډه کيږي چې د دښمن جالې يې سيزلي دي، له خپل پټنځای راوځي او د خپلو سرتيرو سره د سيند خوا ته منډه اخلي.